مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخړ

۲۰۲۵/۱۲/۲۵

# د یهودو عادلانه جګړې

(یوسل او اوه لسمه برخه)

## له اسراییلو د امریکایانو ملاتړ او لویه بیه (۱۲)

**پایله:**

په تېرو لیکنو کې مو ولوستل چې د امریکا په خاوره کې د ننه او بهر د اسراییلو د مخالفو وسلهوالو ډلو لهخوا پر امریکایانو باندې له اسراییلو څخه د ملاتړ له امله په سلګونو لوی او واړه بریدونه تر سره شوي دي چې په غبرګون کې د امریکا او اندیوالانو لهخوا یې پر افغانستان، عراق، ایران او نورو هېوادنو باندې بریدونه شوي او اوږدې جګړې رامنځ ته شوې دي **چې په دې جګړو کې له دواړو غاړو په سلګونو زره وسلهوال او ملکي وګړي وژل شوي او ژوبل شوي دي. شواهد ښیي چې د امریکایانو د دغو برغلونو بنسټیز عوامل له اسراییلو څخه د دفاع په موخه ترسره شوي دي.**

د امریکایانو په جګړو کې، سربېره د انسانانو پر تباهیو، امریکا د اسراییلو په دوستۍ کې په ترلیونونو[1] ډالر هم لګولي او په سیاسي ډګر کې څنډې ته شوي چې په نړۍ کې د یو ناباوره او بدعهده هېواد په نوم پېژندل کیږي. ډېر عربي او اسلامي هېوادونه د امریکا دوستۍ ته د یو پېټ او ناځوانه دښمن په نظر ګوري چې په سخت حالت کې خپل دوستان او همکار هېوادونه (چې پر دوی یې باور کړی ؤ) د خپلو دښمنانو ترحم ته پرېږدي.

په دې تړاو د امریکا د وخت د ملي امنیت سلاکار او د بهرنیو چارو وزیر، جرمنی یهود توکمه (هنري کیسنجر) ویلي چې **«له امریکا سره دښمني خطرناکه ده خو دوستي یې مرګوني ده.»**[2]

هنري کیسنجر چې د امریکا د لوړپوړو او مهمو چارواکو څخه ؤ، د امریکایانو په اړه یې پورته څرګندوني یوه ربښتني وینا بلل کیږي. خو د کیسنجر دا وینا د اسراییلو پر وړاندې لا نه ده پلي شوې. وجه دا ده چې اسراییلي صهیونستان، له آره امریکایي چارواکي د نانځکي په څېر لوبوي او څه یې چې زړه غواړي هغه پرې کوي.

---

[1]: یو ترلیون ۱،۰۰۰،۰۰۰،۰۰۰،۰۰۰ زر بیلیونه کیږي او یو بیلیون زر میلیونه کیږي.

[2]:https://www.irna.ir/news/85766675



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولۍ

**امریکایانو چې د اسراییلي صیهونستانو په دوستۍ کې د سر او مال زیانونه لیدلي دي، دومره زیانونه یې له خپلو ښکاره دوښمنانو څخه نه دي لیدلي.**

له هغه مهاله چې امریکایانو د اسراییلو په دفاع کې د نړۍ په بېلابېلو سیمو کې ډېر خلک ووژل او هم یې خپل خلک له اسراییلو څخه د قربانۍ د پسونو په څېر قرباني کړل او په ترېلیونونو ډالر یې ولګول، دا کړنې د امریکایانو د سختې ناپوهۍ ښکارندویي کوي، داسې لکه یو سړي چې **«د یوې سپېږې (اسراییلو) لپاره خپل پوستین په اور اچولی ؤ.»**

کله چې امریکایان د ناپوهۍ له خوبه وېښ شي او سترګې وغړوي نو وبه ویني **چې اسراییل د دوی دوستان دي، که د دوی پر وړاندې د ډېرو دښمنانو جوړوونکي؟** دا د اسراییلي صهیونستانو شېطاني پوهه ده چې د ناپوهو امریکایانو پر وړاندې یې نیمه نړۍ دښمنه کړې ده.

که چېرې امریکایانو د اسراییلو د تېریو او وحشتونو څخه د ملاتړ پر ځای د مظلومو فلسطینیانو څخه په حقه ملاتړ کړی وای او حق ته یې حق ویلی وای نو هېڅکله به د امریکایانو پر وړاندې دا ډول خونړي غبرګونونه نه وو رامنځ ته شوي او نه به دومرې ډېر انسانان وژل شوي وو، له بده مرغه چې امریکایانو له انسانیت څخه د ملاتړ پر ځای د صهیونستانو له وحشت څخه ملاتړ وکړ چې له امله یې نړۍ او په خپله امریکایان له خطر سره مخ کړي دي. امریکایي سیاستوالو خپل وګړي له اسراییلو څخه ډېر بېځایه قرباني کړل، داسې لکه یو سړي چې د خرونو د غلا پر مهال وژل شوی ؤ نو د هغه ښځې د خپل میړه پر مړي ژړل ویل یې:**«ارمان دی چې میړه مې د سرو اوښانو په غلا کې وژل شوی وای، نه دا چې د خړو خرونو په غلا کې ووژل شو.»**

نېټه:۵/۱۰/۱۴۰۴ل. ل

**نور بیا**

د ښاغلي محمد انور اخړ نوري لیکنې په دې لینک کې ولولۍ.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ